مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد معصوم هوتک
۲۰۱۸/۱۰/۲۹

# نیرنگ عشق

## په شعر کي د حمید مومند د کمال او جمال هینداره

## (دوهمه برخه)

نیرنگ عشق په فارسي نظم لیکل سوی داستان دئ چي ویونکی ئي محمد اکرم نومېدی او شعري تخلص ئي (غنیمت) او د (کنجاه) اوسېدونکی وو. د مولانا غنیمت کنجاهي په باب زما د همدې لیکني اساسي ماخذ دده د لاهور چاپ دېوان ( ۱۹۵۸م) هغه سریزه ده چي د پرفسور غلام رباني عزیز په قلم په اردو ژبه لیکل سوي ده.
په دې داستان کي له مجازي مېني څخه حقیقي عشق ته د رسېدلو پېښه بیانېږي. د داستان اتل چي (عزیز) نومېږي او د خپل وخت د یوه نامداره وزیر زوی دئ، چې د یوه فقیر او بېوزله چا پر زوی مین سوی وو چي (شاهد) نومېدی او د بهګتبازانو په ډله کي ګډا (رقص) ته مجبور سوی وو. د مېني او عشق پر دغو اورنیو جذباتو او ولولو باندي د عُشاقو د نورو داستانو په شان د بېلتانه څپې راځي. د داستان اتل چي د بېلتانه اور ئي زړه مکوټ کړی دئ، مجبور کېږي مخ پر بوښو ونیسي. له ځان او جهان، له کور او کلي، له خپل او پردي څخه لاس ومینځي. خو وینه ئي له شاهد سره وي، خوب ئي له شاهد سره وي، د ژوند هره شېبه ئي له شاهد سره وي. په پای کي ئي د حقیقي مینه روڼا زړه ته رسېږي او له اورنی مجازي مېني انتها ئي حقیقي عشق ته دربېږي. د داستان نتیجه دا راوزي چي حقیقي مېني ته د رسېدو اول منزل مجازي مینه ده.
محمد اکرم غنیمت د نیرنګ عشق داستان په ۱۰۹۶ هـ ق کال نظم کړی دئ . د نظم کال ئي پخپله د شاعر له خوا په دې بیت کي راغلی دئ :

نمایان گشت تــاریخ نـو آئین
ز گلزار بهار فکــــر رنگین

د " گلزار بهار فکر رنګین" ابجدي ارزښت ۱۰۹۶ هـ ق کېږي.
مولانا غنیمت د نیرنګ عشق په "خاتمهٔ کتاب" کي ددغه داستان د بیتو شمېر ۱۵۸۰ ښللی دئ. ده ویلي دي :

چـو ابـیـاتـش پس از گـفـتـن شمردم
به اعـــــــــــداد غنیمت راه بردم
(صـ ۵۴ لاهور)

د" اعداد غنیمت" له قیمت څخه ۱۵۸۰ راوزي. خو په چاپي نسخو کي دا شمېر نه پوره کېږي. دغه داستان لومړی وار په لکهنو کي چاپ سوی دئ ( ۱۲۶۳ هـ ق = ۱۸۴۶ع).
د فارسي نیرنګ عشق ناظم په ( مولانا غنیمت)، ( غنیمت پنجابی)، (غنیمت کنجاهی) هم سره یاد سوی دئ. دده د زېږېدو ځای د (کنجاه) کلی دئ چي د ګجرات دلویدیځ خواته په اووه میلي کي پروت دئ. دده د زېږېدو کال موږ ته څرګند نه دئ، خو دونه قدر ویل سوي دي چي غنیمت په هندوستان کي د ګورګاني شهنشاه اورنګزېب عالمګیر (۱۶۵۸ ـ ۱۷۰۷ ع ) د واکمنی په وخت کي د لاهور د نواب مکرم خان په ندیمانو او مصاحبینو کي وو. دغه نواب د دوولسمي هجري پېړی په لومړی لسیزه کي د لاهور واکمن ټاکل سوی وو. مولانا غنیمت د نیرنګ عشق داستان په همدغه وخت کي کښلی وو. دغه وخت چي دده د کلام صلابت ته څوک وګوري، اټکل کولای سي چي د عمر په لحاظ به پوخ سړی وو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

د غنیمت پلار و نیکه د مغولي شاهانو د واکمنی په پیل کي له شام څخه هندوستان ته مهاجر سوي ول او په دغه له نظره وتلي کلي (کنجاه) کي ئې اړولي ول. د غنیمت پلار نذرمحمد نومېدی او په کنجاه کي مفتي وو. د دنیایي رتبي او مقام پر ځنګ ئې د علم برخه هم درلوده. اکا (تره) ئې شیخ ابوالبقاء نومېدی. دغه دواړه وروڼه د سیدالعارفین الحاج محمد نوشه ګنج بخش مریدان او وروسته د هغه خلافت ته هم رسېدلي ول. وایي چي غنیمت په وړکینه کي په لهو و لعب مشغول هلک وو خو د یوه تصادف له مخي ئې د سید محمد صالح لاسنیوی وکړ. سید د حضرت غوث الاعظم ګیلاني له اولادی څخه وو او د ګجرات دختیځ په څلور میلي کي په ( ساده) نومي کلي میشت وو. د غنیمت په روحاني او ادبي روزنه کي ددغه بزرګ سید برخه زیاته ده. مولانا غنیمت سني مذهبه او په طریقت کي قادري وو.له حضرت غوث الاعظم شیخ عبدالقادرګیلاني سره ئې لېونی مینه درلوده. وایي دده په مخ کي چي به چا د غوث الاعظم قدس سره نوم واخیست، دی به پرمخي پر مځکه پرېووت. یو چا دا خبره د اورنګزیب عالمګیر پاچا تر غوږه ورسوله. پاچا دی وروغوښت او ځني وې پوښتل :" وایي ته د غوث الاعظم د نامه له اورېدو سره پر سجده پرېوزې. ستا دا حرکت د اسلامي توحید پر خلاف عمل دئ. آیا ته د خپل دغه عمل له پاره کوم شرعي دلیل او جواز وړاندي کولای سې؟" پاچا ئې د جواب په انتظار وو خو چي غنیمت ته ئې وکتل، هغه پرمخي پروت وو. پاچا نور څه ورته ویل مناسب ونه ګڼل او خوشي ئې کړ.

وایي چي مولانا غنیمت چي د نیرنګ عشق مثنوي د لیکلو کار بشپړ کړ، نو دداسي کسانو په لټه کي سو چي دده ددي ستر ادبي کار په قدر دي وپوهېږي. خودده په شاوخوا کلیوالي خلکو کي ددغه راز عالي کلام په ربښتیني ارزښت پوه کسان نه ول. نو ئې کتاب په بغل کي ونیو، د خاورو کنډولی ئې ورسره واخیست او مخ پر ډهلي روان سو. په دغه زمانه کي مشهور ادبدوست شخصیت او د لوړي سویي شاعر میرزا سرخوش په ډهلي کي میشت وو او د ډهلي په جامع مسجد کي به ئې ادبي دربار جوړاوه. مولانا غنیمت چي ډهلي ته ورسېد د جامع مسجد په زینو کي ئې ځنګ واچاوه. یو چا میرزا سرخوش ته حال ورووړ چي یو فقیر په زینو کي ناست دئ او مجلس ته د راتلو اجازه غواړي. میرزا وویل : رائي ولئ. غنیمت مجلس ته حاضر سو او په یوه کونج کي کښېنوست. د مجلس غړي په ادبي مباحثو کي ډوب ول او غنیمت غوږ ورته نیولی وو. په پای کي د مجلس یوه غړي غنیمت ته مخ وروړاوه او ورته وې ویل :" بڑے میاں آپ گونگے تو نهیں کچھ تو کهئے ". یعني

" لوی میا! ګونګی خو به نه یې ! یو څه خو ووایه".

دغه وخت د غنیمت شعري قریحه پر ځپو راغله او بالبدیهه ئې ورته وویل :

کـــــرده ام از مهر لب نـــــقد بیابان در ګِره
بسته ام چون غنچه ی سوسن زبـانـها در ګِره

د مجلس حاضرینو چي له دغسي یوه خواره بوښکي ګدا څخه ددغه شان یوې عالي مطلع انتظار نه درلود، دومره په حیرت کي سول چي د چا و چا تر سترګو اوښکي راغلي. غنیمت دوهم بیت ورته واوراوه :

سرفـراز منصب سرګشتګی ګردیده ام
اختر ما داشت ګویی آسمان ها در ګِره

او په دې ډول ئې ټول غزل بشپړ او په دې مقطع ئې وتاړه :

یاد مـژګانش غنیمت چاکها در دل فِګند
تا بکی باید نهان کــردن سنانها در ګِره

میرزا سرخوش ورته را ولاړ سو ، په غېږ کي ونیو او د مجلس په غړو کي ئې ځای ورکړ. د خاورو کنډولی ئې د سپینو زرو په طلاکاره جام وړ الیش کړ او خیرنه ګودړی ئې په ښکلو جامو وړ بدله کړه. د غنیمت خولی په غوړو کي سوه او نور ئې ژوند په آرامی او سکون کي کاوۀ .

د مولانا غنیمت په آثارو کي پر نیرنګ عشق برسېره یو د شعر دیوان دئ چي د مصطفی علی او محمد تیغ بهادر په اهتمام په لکهنو کي چاپ سوی دئ. بل چاپ ئې د پنجاب اکاډمی له خوا د پروفیسر غلام رباني عزیز په تصحیح په لاهور کي چاپ سوی دئ. له دغه چاپ څخه ما د غنیمت د ژوند پېښو په برخه کي استفاده کړې ده. ویل کېږي چي د (انشاء غنیمت) په نامه ئې یوه بله مثنوي هم سته. علامه رشاد په یوه یادانت کي کښلي دي چي " د تاشکند په کتابخانه کي د ( رقعات غنیمت) په نامه یو خطي اثر سته چي د محمد اکرم کنجاهي د دیارلسو خطونو مجموعه ده. د مرسل الیه نومونه ئې نسته. ښایي دغه مجموعه هماغه ( انشاء غنیمت) وي چي دده په آثارو کي ئې نوم ضبط دئ. یوه بله مثنوي ئې ( قضا و قدر )نومېږي چي خطي نسخه ئې د علی ګړهـ پوهنتون په خطي کتابخانه کي سته".


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

تذکره لیکونکو د مولانا غنیمت د وفات کال تر ۱۱۵۸ هـ ق وړاندې ګڼلی دئ، څکه میرزا سرخوش ئې په دغه کال یادونه د ماضي په صیغه کړې ده چې تول بیان به ئې که د خدای رضا وه، د میرزا سرخوش د پیژندګلوی په برخه کې وکاږم. د غنیمت مزار د کنجاه کلي جنوبي لور ته د " باغ دیوانان" په نامه یوه ځای کې واقع دئ او دوه دری منجاور سر و کال پر ناست وي. زیارت ته ئې عام و خاص ورځي.
د مولانا محمد اکرم غنیمت په معنوي او مادي روزنه او پالنه کې چې مو د ځینو کسانو او مشایخو نومونه واخیستل، بده به نه وي چې د هغو په باب هم لږ و ډېر وږغیږم.

## نواب مکرم خان، او دا چې دی د عزیز پلار وو که نه؟

نواب مکرم خان د اورنګزیب په وخت کې د لاهور نواب او د پاچا له ډېرو معتبرو اُمراوو څخه وو. ځینو څېړونکو د نیرنګ عشق داستان اتل د همدغه نواب مکرم خان زوی بللی دئ. ددغه حدس و ګومان استناد ئې د داستان پر دغو لاندې بیتو کړی دئ :

سر و سرخیل مجلس نـو جوانی
به عـلـــــم عشقبازی نکته دانی

برنگ فکر خود صاحب تمیـزی
چو نام خویش در دلـــها عزیزی

*****

مهین فـــــرزند والاشان امیری
سکندر شوکت افلاطون وزیری
( صـ ۱۰ ـ ۱۱ چاپ لاهور)

د فارسي نیرنګ عشق د لکهنوچاپ ( دسمبر ۱۹۲۵ع) په ۱۸ مخ کې ئې په دغه بیت کې د راغلي امیر د پیژندنې له پاره په حاشیه کې کښلي دي : " امیر، مراد از نواب معلی القاب مکرم خان بهادر است که در عهد معدلت مهد حضرت اورنگزیب غازی رحمة الله علیه از اکابر امرای شاهی بود و عزیز فرزند کلان و ولیعهد آن والاجاهی بود و من ارشد تلامذه افخرالشعراء مولانا غنیمت علیه الرحمه والغفران بوده و سلسلهٔ ارادت هم بصدق عقیدت بخدمت آنحضرت داشت و مولانا آن ذی تمیز را بنظر محبت تام و الفت تمام میدید...."
داسې ښکاري چې محشي دا معلومات د محمد افضل سرخوش پر کوم اثر بانديې د" مولوی حامدعلیخان حامد شاه آبادی" له شرح څخه رااخیستي دي. محمد افضل سرخوش چې د مولانا غنیمت معاصر او هم مجلس دئ او ما ددې څېړنې په سر کې د دوی دوو د معرفت په باب یو لړ خبرې کښلې دي، د کلمات الشعراء په نامه یوه تذکره لري (کلمات الشعراء د علیرضا قزوه په کوشش په تهران کې چاپ سوی دئ ـ ۱۳۸۹هـ ش). په دې تذکره کې ئې د مولانا غنیمت په باب یو دوې کرښې او د کلام نمونې راوړې دي. ده کښلي دي :
" از خاکیان هند غنیمت بوده طبع درست ذهنی رسا داشت. دیوان مختصر دارد و مثنوی نیز فکر کرده.".
له دې څخه ښکاري چې د نیرنګ عشق د لکهنو چاپ د محشي ماخذ د مولوي حامدعلیخان شرح ده چې زما سره ددغې شرح په باب د ویلو څه نسته او لیدلې و کتلې مې نه ده.
د نیرنګ عشق په دا پورتنیو بیتو کې (عزیز) د وزیر زوی بلل سوی دئ خو د نواب مکرم خان صراحت پکښې نسته. نواب مکرم خان د لاهور هماغه واکمن وو چې خوشحال خان ختک (۱۰۸۶ ـ ۱۱۰۰ هـ ق) ئې د خاپښ د جګړې په بیان کې نوم راوړی دئ .

شېرم جنګ مکرم خان شمشیر خان دواړه
چې ایمل کــــړل په خاپښ کښې تار په تار
(مرغلري ـ ص ۵۹۳)

د مکرم خان نوم میر محمد اسحق او د شمشیر خان دا میر محمد یعقوب وو. دوی دواړه سره ورونه ول پلار ئې شیخ میر نومېدئ او اکا ئې سید امیر خان خوافي وو. (وګ : د تاریخ مرصع تعلیقات ـ ۱۱۴۷ مخ ـ چاپ ۲۰۰۶ع). د ( کمالات الشعراء) مؤلف میرزا افضل سرخوش دغه شیخ میر د عالمګیر پاچاد "سپه سالار" په لقب یاد کړی دئ (کمالات الشعراء ـ صـ ۱۱۵).


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د خاپښ جنګ د ۱۰۸۶هـ ق کال په ربیع الاول = جون ۱۶۷۵ع کي پېښ سوی دئ. خوشحال خان ئي نېټه داسي ویلې ده :

د دربیمي خور اول کال د "غفو" وۀ
ما چي وی په برموله کښي دا اشعار
( ص ۵۹۴)

په دې جنګ کي مکرم خان او شمشیر خان د ایمل خان او دریا خان له لاسه ماته وخوړه. شمشیرخان سر هم پکښي وخوړ خو مکرم خان باجوړ ته ځني وتښتېد.
نواب مکرم خان وروسته له سرکاري دندي څخه لاس واخیست او د سلوک لار ته ئي مخ کړ. مفتي غلام سرور لاهوري د خزینة الاصفیا په لومړي ټوک ۶۶۵ مخ کي ددغه نواب مکرم خان په باب کښلي دي :
" از مقبولان ربانی و عاشقان یزدانی و اجل خلفای شیخ معصوم مجددی بود .... اول در زمرۀ امرای نامدار عالمگیری بجاه و حشمت اتصال داشت بعد ازان جذبۀ عنایت جاذب حقیقی در رسید و بخدمت شیخ محمد معصوم حاضرشده مرید شد و بتوجه موجه شیخ بمراتب اعلی و درجات معلی فائز گشت".
شیخ محمد معصوم مجددي نقشبندي ( ۱۰۰۹ ـ ۱۰۸۰ هق) د حضرت مجدد الف ثاني زوی وو. په خزینة الاصفیا ( صـ ۶۴۰) کي ئي کښلي دي چي اورنګزیب پادشاه هم د شیخ محمد معصوم مجددي مرید وو.
نواب مکرم خان ډېر اوږد ژوند وکړ او په ۱۱۴۸ هـ ق کال مړ سو. د مرګ پر وخت ئي عمر تر ۱۲۰ کالو زیات وو. خو ده په دې اوږده عمر کي یوازي ځلور کاله پر ژوند شمېرل . وایي کله چي ئي د دنیا جاه و جلال پرېښودل،یوه ورځ عالمګیر پادشاه ځني وپوښتل چي " د څو کالو به یې؟" ده په جواب ورته وویل :" د ځلورو کالو!".پادشاه ومسل. ده ورته وویل : " خانده مه! هر څونه عمر چي مي د خپل بزرګوار پیر او مرشد په خدمت کي تېر کړی دئ، هغه مي اصلي عمر دئ. نور پاته کلونه مي چي ستا په خدمت کي تېر کړي دي ، هغه مي د آخرت وبال دئ". (خزینة الاصفیاء ـ صـ ۶۶۵)
مفتي لاهوري ئي د وفات نېټه داسي کښلي ده :

دوســتدار حــق مکرّم خـــــــــان ولی
شـــد چـو از دنـیـا بجنت جـــایـگیر

سـال وصـل او بـه "سرور" شد عـیان
از ولی حق مکـــــــــــرم دستگیر

له دې بیانو څخه داسي ښکاري چي نواب مکرم خان ته د نیرنګ عشق داستان داتل (عزیز) د زوی واله نسبت شکمن دئ او دا شک بیاهغه وخت نور قوت هم اخلي، کله چي څوک د مآثرالامراء د مؤلف صمصام الدوله شاهنواز خان په قلم د نواب مکرم خان ژوند لیک ولولي. صمصام الدوله شهنواز خان ( ۱۷۰۰ ـ ۱۷۵۸ع) د هند د مغلیه دوري مورخ ، شاعر او وزیر وو. اصل نوم ئي عبدالرزاق حسین وو او وایي چي دغه لقب ورته د نظام دکن نواب ناصرجنګ (۱۷۴۸ ـ ۱۷۵۰ع) ورکړی وو. دده مشر نیکه د جلال الدین محمد اکبر ( ۱۵۴۲ـ ۱۶۰۵ع) په زمانه کي د خراسان له خواف څخه هندوستان ته مهاجر سوی او د اکبر په پاچهي کي ئی " شاهي ملازمت" تر لاسه کړی وو. شهنواز خان پر دکن باندي د فرانسوي ایسټ اینډیا کمپنی د یرغل پر وخت په جګړه کي شهید سوی دئ ( ۳ رمضان ۱۱۷۱ هـ ق).
شهنواز خان پر مآثرالامراء سربېره د فارسي شاعرانو یوه تذکره هم کښلي ده چي خطي نسخي ئي د حیدرآباد دکن په آصفیه کتابتون کي خوندي دي. ( اردو ویکیپیډیا).
مآثرالامراء په هند کي د جلال الدین محمد اکبر له زماني څخه راوروسته د مشهورو اُمراوو او د هغوی شرح حال ته ځانګړی سوی دئ. د کتاب ژبه پارسي ده. د کتاب د ترتیب و تالیف پیل شاهنوازخان را نبولی ، میر غلام علي آزاد بلګرامي پسي غځولی او د شاهنواز خان زوی میر عبدالحي خان تر دوولس کاله زیار او کړاو وروسته بشپړ کړی دئ ( ۱۱۹۴هـ ق = ۱۷۸۰ع). میر غلام علی آزاد بلګرامي (۱۷۰۴ ـ ۱۷۸۶ع) د هند مشهور شاعر، ادیب او مورخ وو. په فارسي، اردو او عربي ژبو د خورا ډېرو آثارو څښتن دئ. په مذهب حنفي او په طریقت کي چشتي وو.
بلګرام (Bilgram) د هند په شمالي ایالت اوترپرادېش کي د یوه ښار نوم او د آزاد بلګرامي زېږنځی دئ.
دغه بشپړ سوي متن واردواره د بنګال ایشیاټیک سوسایټي له خوا د مولوي عبدالرحیم په تصحیح په درو ټوکو کي په کلکته کي چاپ سوی دئ ( ۱۸۸۸ع).اردو ژباړه ئي د پروفیسر محمد ایوب قادري له خوا سرته رسېدلې او په ۱۹۷۰ع کال د لاهور د مرکزی اردو بورډ له خوا په درو ټوکو کي چاپ سوی ده. ددغي اردو ژباړي په دریم ټوک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

( ۵۷۵ ـ ۵۷۹ مخونو)کې د " مکرم خان میر اسحاق" ژوندپېښې بیان سوي دي چي کاپي ئې همدا اوس زما مخ ته پرته ده . په ۵۷۷ مخ کې د مکرم خان د بازماندګانو په باب کښلي دي :
" وه [مکرم خان] لاولد تها ـ عبیدالله خان نام ایک شخص اس کا لی پالک مشہور هی ـ سید حشمت الله خان کہ جو اس زمانی (1161 ھ) میں آصف جاہ کے جانب سے بادشاهی دربار میں وکالت پر متعین هے، اس ( عبیدالله خان) کا لڑکا هی ".
ژباړه : ده [ مکرم خان] اولاد نه درلود. د عبیدالله خان په نامه ئي یو څوک په زوی والي نیولی وو چي مشهور دئ.سید حشمت الله خان چي په هغه زمانه ( ۱۱۶۱هـ) کي د آصف جاه له خوا د پادشاهي دربار پر وکالت ټاکل سوی وو، ددغه عبیدالله خان زوی دئ.
لوستونکو ته به اوس څرګنده سوې وي چي یوه بې اولاده چاته د نیرنګ عشق داستان اتل (عزیز) منسوبول،څومره د اعتبار وړ کېدلای سي؟
ددې شک ماشوړه (غوټه) موږ ته د (سفینهٔ خوشګو) په نامه د فارسي تذکرې لیکونکی بندرابن داس پرانیزي . ددغي تذکرې په ۲۲ مخ کي ئې د مولانا غنیمت د پېژندني په ترڅ کي لیکلي دي :
ترجمه ـ" ... څه عمر ئې د سیالکوټ د فوجدار میرزا ارتق بېګ سره تېر کړ. په دغو وختو کي د میرزا ارتق بېګ زوی میرزا عبدالعزیز پر شاهد نومي هلک باندي چي په ګډا او ساز و سرود کي ئې نوم درلود، مین سوی وو. غنیمت ته ئې چي د میرزا عبدالعزیز له ملګرو او همزولو څخه وو، ددغي معاشقې د نظم کولو امر وکړ او غنیمت هم په دغه باب نیرنګ عشق .... په ۱۰۹۶ کي منظوم کړ."
بندرابن داس خوشګو د میرزا عبدالقادر بیدل، میرزا محمد افضل سرخوش " معاصر او معاشر" وو. پلار ئې شیورام داس "حیا" د اورنګزېب په شاهي لښکرو کي خدمت کاوه. ده د (سفینهٔ خوشګو) په نامه د شاعرانو یوه تذکره په فارسي ژبه په ۱۱۴۷ هـ ق = ۱۷۳۴ع کي کښلي ده. که د مولانا غنیمت مړینه تر ۱۱۵۸ق کال لږ وړاندي ومنو، نو سفینهٔ خوشګو د غنیمت د ژوند په وروستیو کلونو کي لیکل سوې ده. دا تذکره څلور فصله لري او په هر فصل کي ئې نه یوازي د شاعرانو ژوندلیک کښلی دئ ، بلکي د هغو شعر ئې هم نقد کړی او د ژوند پېښو په باب ئې د نورو تذکرو تېروتني سمي کړي دي. سفینهٔ خوشګو په هند کي د فارسي شاعرانو په تذکرو کي د اعتبار وړ تذکره بلل سوې ده .
له دې تفصیل څخه څوک ویلای سي چي د نیرنګ عشق داستان د اتل په باب د(سفینهٔخوشګو) روایت څکه د منلو وړ دئ چي لیکوال ئې د مولانا غنیمت د عصر سړی او د هغه له مصاحبینو سره محشور سړی دئ او په دې ډول ویلای سو چي نواب مکرم خان ته د (عزیز) د زوی والي نسبت کمزوری او خوشي هوایي روایت ښکاري. (عزیز) د سیالکوټ د فوجدار میرزا ارتق بېګ زوی وو.

## حاجي محمد نوشه ګنج بخش څوک وو؟

لکه په تېرو کرښو کي چي مو ولوستل، د مولانا غنیمت پلار نذر محمد او اکا(تره) شیخ ابوالبقاء د سیدالعارفین حاجي محمد نوشه ګنج بخش مریدان او وروسته ئې خلیفه ګاڼ سول. ددغه ستر عارف لقب په زیاترو کتابو کي (نوشاه ګنج بخش) ښوول سوی دئ. ده په باب مفتي غلام سرور لاهوري داسي کښلي دي :
" از عظمای خلفای شاه سلیمان قادری، ولی مادرزاد، صاحب جذب و صحو و سکر و محبت و عشق و شوق و ذوق و زهد و ریاضت و تقوی، صاحب ولایت، والی ولایت، اهل خوارق و کرامت، امام و مقتدای طریقهٔ نوشاهیهٔ قادریه است... پدر عالیقدر وی حاجی علاؤالدین عابد بزرگ و هفت حج گذارده بود. والده ماجده وی بی بی جیولی در موضع ککهیانوالی سکونت میداشتند... چون نوشاه به عمر هفده سالگی رسید ترک دنیا و صحبت اقربا نمود و در نیستان ساندل باز بجائیکه ویرانه عظیم بود تشریف بردند و بزهد و ریاضت مشغول گشت. والدین بعد جستجوی تمام درآنجا رسیدند و بهزار مشکل نزد خود آورد و بموضع نوشهره بخانه یکی از بزرگان وقت کدخدا نمودند و سکونت خود در موضع نوشهره اختیار کرد..." (خزینهٔ الاصفیاء ـ ج ۱، صـ ۱۸۰ ـ ۱۸۱)
مفتی لاهوري ئي د وفات کال د تذکرهٔ نوشاهي په حواله د اورنګ زیب عالمګیر د پاچهی پر وخت په ۱۱۰۳ هـ ق کي بللی دئ. مفتی ئې د وفات نېټه په " زهی نوشاه ذیجاه" کي موندلي ده.
تذکره نوشاهی د حاجي محمد نوشاه ګنج بخش کروسي محمد حیات لیکلي ده.

## سید محمد صالح ګیلاني:

سید محمد صالح د حضرت حاجي محمد نوشاه ګنج بخش له سترو خلیفه ګانو څخه وو. د وفات کال ئې مفتي غلام سرور لاهوري د تذکره نوشاهي له خولي ۱۱۱۸هـ ق لیکلی دئ او وایي چي د کوچني ګجرات په چکساده کي ښخ دئ. د وفات نېټه ئې په " شیخ الاولیا صالح" کي موندلي ده. (خزینهٔ الاصفیاء ـ ج ۱، صـ ۱۹۸)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څېر و لولئ

## میرزا سرخوش:

میرزا محمد افضل سرخوش د اورنگزېب د وختو مقتدر شاعر او د مولانا غنیمت همعصراو هم مجلس وو. وايي چي په بدیهه گویي کي ئې خاص مهارت لارۀ. دده او مولانا غنیمت د پېژندگلوئ او مصاحبت بیان ما په تېرو مخونو کي کښلی دئ. سرخوش په ۱۰۵۰ هـ ق کال زېږېدلی دئ او د زېږېدو تاریخي ماده ئې " افضل اهل زمانه" ده. د وفات کال ئې ځینو منابعو ۱۱۲۶هـ ق او ځینو نورو ۱۱۲۷ هـ ق کښلی دئ. په سفینۀ خوشگو( ج۳ ص ۷۶) کي راغلي دي چي د سرخوش کلیات ۴۵ زره بیته دئ. په نورو آثارو کي ئې د ( نور علی نور)، (حُسن و عشق)، ( ساقي نامه)، (قضا و قدر)، ( جنگنامۀ محمد اعظم شاه) نومونه یاد سوي دي.

سرخوش د کلمات الشعراء په نامه د فارسي ژبو شاعرانو یوه تذکره په فارسي لیکلي ده. ددغي تذکرې کال ( کلمات الشعراء) دئ چي ۱۰۹۳ هـ ق ځني راوزي. د کلمات الشعراء هغه چاپ چي د محمد حسن محوی لکهنوي له ترتیب او په ۱۹۵۱ ع کال د مدراس یونیورستی له خوا خپور سوی، ددغو کربنو د لیکلو پر وخت ماته پروت دئ. په دغه تذکره کي د ۱۶۹ تنو شاعرانو شرح حال راغلی دئ. د تذکرې مؤلف د خپل کار په باب له تصلفه ډک نظر لري او کښلي ئې دي :

داخل اهل سخن نیست به پیش دانا
آنکه نامش نبود در کلمات الشعراء

د کلمات الشعراء سریزه په اردو ژبه لیکل سوې ده او په پای کي ئې یو مخ یادوَنه په انگرېزي ژبه ده.

(د دوهمي برخي پای)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ